زرغون

## د غوره مقالې معیارونه

| | | جزئیات |
|---|---|---|
| 1 | **د ټاکل شوې موضوع اړوند وي** | • لیکنه باید د ځانګړې معرفتي حوزې (فزیک، فلسفې، هنر او میتافزیک) له لیدلوري ولیکل شي.<br>• د موضوع اړوند مختلف فکتورونه وړاندې شي.<br>• په ټوله مقاله کې په اصلي موضوع تمرکز وي. |
| 2 | **اصلي وي، کاپي نه وي** | • د ټاکلې موضوع په هکله، د لیکوال خپل اند/مفکوره وړاندې شوی وي.<br>• که د نورو کسانو اندونه وړاندې کوئ، نو سرچینه یې په پای کې لیکل شوي وي.<br>• د نورو ساینس پوهانو او فیلسوفانو په اندونو د نقد په صورت کې د اصلي نظر سرچینه لیکل شوې وي.<br>• د موضوع په هکله د خپل ځانګړي نظر د ملاتړ لپاره د نورو کسانو له اندونه مرسته اخیستل شوې وي. |
| 3 | **له علمي اړخه سمه وي** | • د علمي حقایقو، نظریو او معلوماتو د لیکلو په صورت کې معتبرې علمي سرچینې کارېدلي وي.<br>• د علمي مفاهیمو او شخصي تفسیرونو یا نظریو ترمنځ ښکاره توپیر پروت وي.<br>• د علمي مفاهیمو یا نظریو د لیکلو په صورت کې باید وروستۍ او دقیقې څېړنیزې سرچینې کارېدلې وي.<br>• په هیڅ ډول باید د ویکیپېډیا محتوی نه وي کاریدلي. |
| 4 | **واضح لیکل شوې وي او سم جوړښت ولري** | • مقاله د محتوی اړوند جذاب عنوان ولري.<br>• د وضاحت لپاره فرعي عنوانونه ولري.<br>• په یوه لنډه او روښانه سریزه باندې پیل شي.<br>• د هرې اصلي مفکورې لپاره جلا پاراګراف ولري.<br>• پراګراف په یوه مفکوره پیل او د مفکورې د اثبات لپاره منطقي استدلال وړاندې شي.<br>• د مقالې په پای کې روښانه لنډیز ولري.<br>• په مقاله کې ډېرې عامې او واضیحې کلیمې کارېدلې وي. |
| 5 | **له ادبیاتو او ګرامري اړخه سمه وي** | • د مقالې املا او انشا سمه وي.<br>• د جملو پیل او پای واضح وي.<br>• جملې ګرامري ترون ولري.<br>• پراګرافونه له یوه بل سره مناسب ترون ولري.<br>• عمودي او افقي تسلسل ولري. |
| 6 | **سرچینې** | د مقالې په پای کې علمي سرچینې یې د (APA) فارمټ په اساس ذکر شوې وي. |